# ترمابنامه

لنډه کیسه :
ليکوال : عبدالله الهام جمالزی

ځان يې سره تاو کړ ، لاسونو ته يې وکتل ، ښی لاس يې لا هماغسې په وينو سور وو سترګې يې پټې کړې له ځانه سره وګړيده .
لمر نور ښه غوړيدلی وو ، دکلي په خړو ديوالونو يې خپلې وړانګې غوړولې وې ، خو دکلي په منځ کې لاهماغسې چوپتيا وه ، هيڅ څوک بهر نه ښکاريدل ، نه شور وو او نه هم دجومات په مخ کې دخلکو ګڼه ګوڼه .
جومات ته يې وکتل سر يې وخوځاوه ، وړاندې روان شو ، په کوڅه کې ودريد ، ځير شو لکه څه چې ترې هير شوي وي ، بيرته روان شو ، په خړو کوڅو کې چې آرامه آرامي وه پکې راووت وړاندې د لمر خاته په لور دلويې ويالې خواته روان شو ، لمر اوس له غره راجګ شوی وو هغه سترګو ته لاس نيولی وو او په چرت کې وړاندې دويالې لور ته روان .
شنې او به تکې شنې او صافې اوبه په ويالـه کې بهيدلې ، هغه پکې خپلې څيرې تـه ځير شو اوږدو وينتانو ، غټو سرو سترګو ته په غاړه کې طلايې بند تـه ، چپ لاس يې کرار پـه اوبو کې ښـکته کړ ، هـول يې وخوړ وويرېدلو لکه چې اوبـه ډيرې يخـې وي لاس يـې بيرتـه را ويوست بيرته يې لاس پکې ښکته کړ ، سترګې يې پټې کړې ، اوږده ساه يې واخيسته ، له ځانـه سره يې وويل : مه کوه ، مه کوه ... نوولې ؟ ...
لاس يې په اوبو کې وخوځـاوه بيايې ښي لاس تـه وکتل لاپه وينو سور وو ، چپ لاس يـې لـه اوبوراوايست نرم يې په ښي لاس راتير کړ، ټپ يې پرې لمس کړ ، بيرته يې اوبو ته ښکته کړ ، ښـی لاس يـې هم پـه ډيره سختۍ اوبو تـه ښکته کـړ ، پـه اوبو کـې يـې وخوځـاوه بيرتـه يـې راوايست ، بيايې سترګې پټې کړې له ځانه سره يې وويل : نوولې ، ولې ؟...
وړاندې يې شنو پټيو ته وکتل ، آرام او نـوي راغوړيدلي لمر تـه يـې ځنې اچولې ، تـه بـه وايـې چې څوک پرې لاس خوځوي داسې منظم يوې او بلې خواتـه اوښتل رااوښتل ، دواړه لاسـونه يې راپورته کړل او په سترګو يې کېښودل ، بيايې سترګې کلکې کلکې پټې کړې .
په پټيو کې هم څوک نه ښکاريدل ، او لړ وړاندې په لويه لاره هم کراره کراري وه ، ډيره شيبه دلويې ويـالې پـه غـاړه ناست وو ، شـاوخوا يـې کتـل ، کلـه بـه يـې د رنګارنـګ مرغـانو غړونـه شميرل کله به يې په اوبو کې خپلې څيرې ته ځير وو ، څه شيبه وروسته په لويه لاره ګڼه ګوڼه شوه ، دښوونځي ماشومان وو ، په شور او زوږ سره په لاره روان وو ، خندل يې کله به چوپ او چابه هم کتابونـه پـه لاس کـې وو او پـه لارې بـه پـه مطالعه بوخت وو ، هسـې هم دازموينو وخت وو .
هغه به کله ماشومانو ته وکتل کله به په اوبو کې خپل تصوير ته متوجه شو له ځانه سره به يـې وويل : کاشکې زه هم کوچنی وای او ښوونځي تـه تللای ، کاشکې په کوچينوالي کـې مـې هم تللی وای ...
دويالې له غاړې راپورته شو ، څوقدمه راغلی وو ، بيرته وروګرځيد بياورغی او مخ ته يې هم اوبه واچولې ، مخ يې پريمينځه نور نو بيرته کېناست ، دښوونځي ماشومان هم نور تـول ولاړل ، کرار کرار دخلکو بيرو بار زياتيده ، ګڼه ګوڼه هم زياته شوه ، ډيره شيبه ناست وو ، راجګ شو کرار کرار مخ په کلي روان شو ، له کلي دوه ښځې مخ په ويالـه راروانـې وې خو دهغـه پـه ليدلو بيرته وګرځېدې .
هغه له ځانه سره وويل : ځی زه موهم په کيسه کې نه يم .

دکلي په لوري په چرت کې راروان وو، دکلي په خړو ديوالونو کې يې سترګې ګنډلې وې ، او دخلکو ګڼې ګونې ته غوږ وو ، په کلي کې له ډيرو سره مخ شو خو هيچاهم سلام ورنکړ بس ټول په خپلو کارونو پسې روان وو ، څوک مخ په ښار روانيدل او چاهم بيل او يوم په اوږه کړي وو او مخ په خپل کار پسې تلل .
دکور مخ ته راورسيد ، دروازې ته يې وکتل سر يې وخوځاوه ، سوړ اسويلی يې وکړ لـه ځانه سره يې وويل : ولې ټول ښه ژوندونه لري زه ولې ؟...
دکور دننه هم چوپتيا وه ، دروازه داسې تړلې وه تابه ويل چې دا ډېر وخت نده پرانستل شوې او څوک ندي پرې وتلي ننوتلي ، دروازه يې خلاصه کړه دننه ننوت ، په کور کې چوپتياوه ، په کوټو کې وړاندې تير شو ، دلوښې خونې ور يې په زور پرانست ، په کوټه کې ټولو د دروازې لور ته وروکتل خوبيرته يې يوبل ته وکتل او په چای څښلو بوخت شول ، هغه هم ننوت هغې خواته کيناست ، چاورته څه نه ويل چې راشه چای وڅښه ، نه هم ورته چا دسترې مشي وويل ، هغه دکوټې په خوا کې کيناست ، دکور دټولو سترګې سرې وې ، زړه مور هغې خواته په وظيفه لګياوه ، او له ځنګه يې پروت ماشوم له خوبه راپاڅيد ، ويې ژړل ، مور يې له چايو پاڅيدله ، او په غيږ کې يې راپورته کړ :

- پاڅه مور دجار شي . ورشه مخ او لاسونه پريمنځه راځه چای وڅښه .

ماشوم راپورته شو ، په خپله نيا کې چې په وظيفه اخته وه سترګې وګنډلې ، ور وړاندې شو په قران شريف يې لاس ورته راتير کړ .

- ستاروژه ده ؟
- هو جار سم پاڅه ته دچای وڅښه .

ماشوم پورته شو ، په ټولو ناستو کسانو کې يې وکتل ، ټول ورته موسکند شول خو بيرته يې تندي سره راوګنډل شول ،اولکه چې کوم لوی وير يې ويروي بس سره غمجن شول . ماشوم راننوت ، په دسترخوان کېناست ، مورته يې وکتل ،

- نعيم کاکا ولې چای نه څښي ؟
- هغه څښلی دی ځويه وڅښه چای دې .

لدې سره نعيم کاکا سترګې رابرګې کړې ، هغه دچاخبره خوله يې خوشې کړه ،

- پورته ورشه چای راوړه ، سړی يې کـه خر زه راغلم ناست يم انتظار باسم اوس به چای راوړې اوس به چای راوړې ....

زړې مور يې د قران شريف په کوم خط ګوته کينوده چې ترې ورک نـه شي شاته يې مخ راوګرځاوه .

- پورته لوري چای ورته راوړه چې بيا به بيګانی نخره جوړه کړي پورته ورشه .

نعيم مورته بد بد وکتل مخ يې ترې راوګرځاوه . لږ وروسته يې چای مخې ته کينود له چايو وروسته ټوله کوټه خالي شوه څوک په خپلو کارونوپسې لاړل او ماشومان سره لوبو ته ووتل ، نعيم کاکا اوږ د وغځيد بيرته ورته هغه سهارنی يخې اوبه يادې شوې ، زړه يې غوښتل بيرته ورووځي خو خوب ورغی اوږد وغځيد ويده شو .

لږ وروسته يې زړې مور دروازه پرانسته ، ورته ځير شوه له ځانه سره يې وويل :

- خدای خو درانه واخله زويه ، زويه خدای خو دجنازه بار کړه .

بيرته يې دروازه بنده کړه او بهر ووتله ، غرمه نعيم له خوبه پاڅيدلی وو ، له څه خوړلو وروسته په کوټه کې اخته شو ، په څه پسې اخته وو ، پيدا کول يې له برې تاخچې نه يې څه راواخيستل او بهر ووت ، په کلي کې چوپتيا وه څوک نه ښکاريدل ګرمي هم وه ، وړاندې دشنو ونو لور ته روان شو ، کرارکرار په ونو کې وړاندې ولاړ او دسترګو له خار ليرې شو .

دشنو ونو په منځ کې شور لګیده ، لکه چې جګړه وي ، بس غوسه ناکې خبرې سره ښکته پورته کیدلې ، پیرو اکا ، ځلمي ته ځیر شو ،

- وهلکه ډېر شور ندی ؟
- ځه اکا بس دنعیم ډله ده یاچرس دي یاقیتې بس څه کړپ به یې راغلی وي . دهغو هروخت همدا حال دی .

پیرو اکا سر وخوځاوه وړاندې په شنو پټیو کې له ځلمي سره خواپه خوا روان وو او هغه دچاخبره ښه تود مجلس سره یې سور کړی وو . خو په ځنګل کې شور سره زور اخیست او لایې زور اخیست ...

په کلي کې هم ګڼه ګوڼه زیاتیده او دجومات مخه نوره له خلکو ډکیدله ، بس ټول سپیره مخونه تر سکاوې پورې تلل او دجومات مخې ته به له سترګیا ړنګ بنګ خو پاک مخونه راروان وو ، پښې به یې لمدې په بوټونو کې ورکړې وې او څښولې به یې ، چاخوبه وړاندې په لویه ویاله اودسونه کړي وو او هغه دچاخبره ترو به یې بس دجومات مخې ته ځان رارساوه ، ټوله ورځ کار او سترګیا به یې بس دلته په څو شیبو کې ورکه شوه او لږ شیبه وروسته به ټول په یوه غږ جومات ته ننوتل اوله لمانځه وروسته به بیا سره راټول شول او په تاوده مجلس به بوخت شول.

په کلي د آذان غږ خپور شو ، لږ شیبه وروسته په کلي کې کراره کراري شوه ، په ځنګل کې هم شور آرام شو ، له لمانځه وروسته دجومات مخه سره ډکه شوه خلک راووتل ، چادنن له قولبې خبرې کولې ، چادسبا داوبو لګولو دنوبت ، چا دښار نه هغه دچاخبره غورې راوړې وې او چاهم له ښونځي او روغتون نه سره خبرې کولې ، دجومات دمخې فضا بس آرامو خبرو او د توت دلویې ولاړې ونې دپاڼو شرنګهار په سر اخیستې وه .

لږ وروسته دځنګل لخوا چیغه راووته ،

- هلۍ ! مرسته هلۍ

کلیوالو یو بل ته وکتل ،

- څوک وو ؟
- دنعیم ډلې لکه چې بیاسره نښلولي دي ؟
- نه غږ خو دبل چا دی .

لږ وروسته دځنګل له لوري ځلمي او پیرو اکا رامنډه کړي وو ، لاسونه او څادر یې خوځاوه ،

- هلۍ رامنډه کړۍ.

کلیوالو هم بس د جومات له مخې په ګډه سره ورودانګل ، منډه ، او دشنو پټیو په پولو سره تاو راتاو شول . ټول مخ په شنو ونو ورننوتل ، په لارې بس همدا پوښتنې او ځوابونه وو ،

- چې خیر خو دی ؟
- هو زه خووایم چې دنعیم ډلې بیا سره نښلولي دي .
- نه ولا پیرو اکا ډېر عجیب ښکاریده لکه چې ډېر ویریدلی وي .
- هغه خوار سپین ږیری دی ، دا نعیم خر دومره بې عقل دی چې خپله زړه سپین سرې مور هم وهي ، نو پیرو خوار ته به یې هم څه ویلي وي .

بس یو رنګه منډه وه ، ټولو ددې انتظار درلود چې بیا نعیم ووینې سرې سترګې او له چاسره یې جنګ کړی وي ، کلیوال ورنه لیرې لیرې ګرځې هغه خپل سګریټ څکوي ، کلیوال بس په منډه کې سره پسیدل ،

- هی هی هغه څه وایي چې چرسي سړی نه سړی خدای خو دداسې ژوندداو داسې اولاد چاته نه ورکوي لکه شیریني ترور ته ،

- ورک کړه ورک کړه دا بیا په هیڅ هم ندي بند کاشکي یو کار روزګار یې هم درلودلی خو دا فقط خوري ښني ...
لدې سره یې سترګې دخلکو په ټول ولګېدې ، خلک راټول ښکاریدل ، ټول کلیوال پرې ورغونډ شول ، دکلیوالو له ټول څخه هم ویني راوتلې وې اوږده ویاله یې جوړه کړې وه ... ټولو اول فکر کاوه چې اوس به بیا نعیم ویني چې سګریټ څکوي او له چاسره یې جنګ کړی وي هغه یې بیا وهلی وي او کلیوال یې ترې خلاصوي ...
خونه داخل په تیت پرک پرتو دقیتوپه کاغذونوکي دچرسو او هیروینو بوی پورته کیده ، دري کسان په وینو کې لت پت پراته وو، دنعیم هم سترګې خلاصې وې ، له ګیډې یې دومره ویني تللې وې چې وړاندې یې ویاله جوړه کړې وه . . .
- دادوه نور څوک دي .
- دا هم دبر کلي نعیمان وو ،
- اوس کوم یو ژوندی دی ؟
- نه .
- چې نعیم وژلي که څه پیښه یې کړې .
پیرو اکا دپولیسو له خبرولو او دمړو له پورته کولو وروسته ، سر وخوځاوه لاس یې په ډډې تکیه کړ ، او ویې ویل :
- نه پخپله یې ځانونه ندي وژلي ، دقیتو څلورم کس وژلي دي ، کوم بل دنعیم په څیر به وو ، خواران .
- هو ولا خواران .
نوره تیاره کیدله ،ځنګل چې دچرسو بویونه لاپکې وو ، نور آرام شو ، خو دجومات په مخکې واړه واړه څراغونه بل شول .
اوپیرو اکا او زمري لوی چاغ پولیس ته کیسه پیل کړه .
دې خواته کلیوالو سرونه خوځول :
- اخ اخ خواران ، دایې ژوند وو، نو لاړل .
- هو رینتیا ولا نور چرس هم ترې پاتې شول او قیتې هم
- رینتیاموریې خبره شوه ...

تهران
۶-۱۱-۱۳۸۵